# د افغـانستان اسـلامي امـارت

| | |
|---|---|
| **د لوړو زده کړو وزارت** | **د لوړو زده کړو وزارت** |
| **ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه** | **میرویس نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه** |

# د ارزګان لوړو زده کړو مؤسسې

# او

# میرویس نیکه زابل د لوړو زده کړو د مؤسسې

# ترمنځ د ګډو همکاریو

# هوکړه لیک

**کال: ۱۴۰۲ هـ. ل، مطابق ۱۴۴۵ هـ. ق**

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

**الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيدنا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.**

دا تفاهم لیک د ارزگان لوړو زده کړو مؤسسې او میرویس نیکه زابل د لوړو زده کړو د مؤسسې ترمنځ د علمي فعالیتونو او ګډو همکاریو د تر سره کولو په موخه لاسلیک کیږي.

**سریزه**:

د پوهنتونو او لوړو زده کړو مؤسیسو ترمنځ ګډ تفاهم لیک د اکاډمیکو همکارۍ او اړیکو په پیاوړتیا کې رغنده رول لوبوي. په یوه منظم چوکاټ کې د روښانو موخو، مسئولیتونو او د علمي ملګرتیا ګډ هوکړلیک د دواړو بنسټونو اکاډمیک قوت لا تضمینوي.

یاد رسمي تفاهم لیک د پوهې او سرچینو تبادله اسانه کوي او موږ ته دا اجازه راکوي، چې ترڅو مشترکې څېړنیزې پروژې پلي کړي او په ځانګړې ډول د اړوندو پوهنځیو علمي او اداري تجربې په ښه توګه شریکې او پلي کړل سي. ګډې موخې د پوهنتونو او لوړو زده کړو مؤسیسو ترمنځ د باور او تفاهم احساس رامنځته کوي او پایلې ئې علمي متحرکې او دوه اړخیزې ګټورې اړیکې تضمینوي.

د یو او بل له کادرې ځواک، تخصص او علمي سرچینو څخه استفاده کول به د دواړو پوهنتونونو په اکاډمیکو چارو کې د پام وړ تاثیرات ولري. دا هوکړه لیک د لوړو زده کړو وزارت د ټولو حاکمو لیکلو قواعداو او مقرراتو په رڼاکې د علمي او اکاډمیکو چارو د کیفیت د لوړولو په موخه ترتیب سوی دئ.

## د ارزګان لوړو زده کړو مؤسسې لنډه پېژندنه:

ارزګان د لوړو زده کړو دولتی مؤسسه چې د هېواد په سطحه یو له مخ پر وده کوونکو تحصیلي مؤسسو څخه شمارل کیږي په ۱۳۹۱ هـ ش کال کښې د وخت د دولت لخوا په ترین کوټ ښار کښې افتتاح شوه چې په لومړیوکې د ښووني او روزني پوهنځی په ذکر شوې مؤسسه کې په فعالیت پیل وکړ او په څلورو څانګو (کېمیا، بیولوژي، ریاضي او پښتو) کې محصلان جذب کړل، چې اوس مهال نوموړی پوهنځی شپږ څانګې فعاله لري او خپلې تدریسي چارې پرمخ وړي. وروسته په ۱۳۹۲ هـ ش کال کې د کرهڼې پوهنځی هم په یاده مؤسسه کې په فعالیت پیل وکړ چې نوموړی پوهنځی اوس مهال اګرانومي او هارټیکلچر دوې څانګې لري؛ بیا په ۱۳۹۸ کال کې د لوړ زده کړو وزارت د عالي شورا له لوري د ۱۳۹۹ کال لپاره د کمپیوټر ساینس پوهنځی او دوه څانګو (شبکه انجنیری او سیستم معلوماتی) ورته منظور شوې، د یادونې وړ ده چې ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې د ټولنې په وړاندې د مسؤلیتونو د تر سره کولو په لړی کې دا ځل د شپې پوهنځی دفعالولو وړاندیز د لوړو زده کړو وزارت ته کړی وو، چې د ارزګان ولایت اړتیا ته په کتو سره د لوړو زده کړو محترم وزارت ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې په

چوکاټ کې د شپې پوهنځی هم د ۱۳۹۹ کال لپاره منظوره کړه، چې وروسته د اسلامی امارت د بریا او قائمیدو سره سم د قدرمن امیر المؤمنین د یوه فرمان له مخی د شرعیاتو پوهنځي منظور او چاری عملآ پیل سوی دی، په پایله کې ویلی شو چي ارزگان د لوړو زده کړو مؤسسه په څلورو پوهنځیو کې ۱۲ فعاله څانگي لري.

## د میرویس نیکه زابل لوړو زده کړو د مؤسسې لنډه پیژندنه:

......

...........

..................

## لومړی ماده: مبناء

د دې تفاهم لیک مبناء د الله جل جلاله دا قول دی چي فرمايي: وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ (المائدة ۲). په دې آیت کي الله جل جلاله خپلو بنده گانو ته دا ښيي، چي په ښو او نېکو کارونوکي یو له بل سره مرسته او همکاري وکړئ، څکه دنیوي کارونه د تعاون او همکاري څخه پرته سرته نه رسېږي. انسانان په دې دنیا کي حتمي یو بل ته احتیاج پیدا کوي او یوازي الله جل جلاله له محتاجی خلاص دئ. دې اصل ته په کتو سره د ارزگان لوړو زده کړو مؤسسې او د میرویس نیکه زابل د لوړو زده کړو د مؤسسې سره د دوه اړخیزو همکاریو تړون لاسلیک کړي؛ ترڅو وکولای سي له دې لاري یو له بل سره په علمي چارو کي گډه همکاري وکړي.

## دوهمه ماده: موخي

دواړه لوري په دې موافقه لري، چي د دوه اړخیزو علمي او عملي گټو په نظر کي نیولو سره د تحصیل، کیفیت لوړاوي او علمي تحقیق د تبادلې د فعالیتونو په زیاتوالي کي یو له بل سره همکاري وکړي. دواړه لوري به د خپل رسالت او اهدافو مطابق په اړوندو ساحو کي فعالیتونه ترسره کوي. دا هوکړه لیک د دواړو لوریو یو عمومي چوکاټ دی، چي د راتلونکو خاصو مجالسو او پروگرامونو د سهولت او همکاري په اراده لاسلیک کیږي.

## دریبه ماده: د دواړه اړخونو گډي همکاری:

د ارزگان لوړو زده کړو مؤسسې او میرویس نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه به د دې هوکړه لیک په اساس یو د بل سره په لاندي ډول همکاري کوي:

1. د ارزگان لوړو زده کړو مؤسسې او میرویس نیکه زابل د لوړو زده کړو د مؤسسې استادان به په محلي، ملي او نړی واله کچه گډو څېړنو ترسره کولو کي یو له بل سره مرسته کوي؛
2. د ارزگان لوړو زده کړو مؤسسې او میرویس نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه به د اکاډمیکو او څېړنیزو فعالیتونو د تمویل په موخه د مالي سرچېنو موندلو په برخه کي یو له بل سره همکاري کوي؛

3. ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه او میرویس نیکه زابل د لوړو زده کړو د مؤسسې استادان به د اصولو سره سم د علمي مقالو په تصحیح او کتني کې یو له بل سره همکاري کوي؛
4. ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه او میرویس نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه به د اصولو په رڼا کې د خپلو علمي مجلو او ژورنالو له لارې د اړوند پوهنتونو د استادانو د علمي مقالو په نشرولو کې یو له بل سره همکاري کوي؛
5. ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه او میرویس نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه به په خپلو ملي کنفرانسونو، څېړنیز پروګرامونو، غونډو، علمي نوښتونو او ورته اکاډمیکو چارو کې یو بل ته د ګډون بلنه ورکوي؛
6. ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه او میرویس نیکه زابل د لوړو زده کړو د مؤسسې مربوطه پوهنځي به په تدریسي، څېړنیزو، اداري او نورو اړوند چارو کې یو له بل سره همکاري کوي؛
7. ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه او میرویس نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه به د امکان تر کچې د څېړنیزو فیلوشیپونو په ورکولو کې یو له بل سره همکاري کوي؛
8. ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه او میرویس نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه به یو د بل د استادانو ، محصلانو او اداري کارمندانو ته د څېړنو، عملي کارونو، اداري کارونو، علمي او سیر علمي په برخو کې د لازمو اسانیتاوو په برابرولو کې همکاري کوي؛
9. ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه او میرویس نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه به د اړتیا په صورت کې یو بل ته مېلمه استادان (**Guest Lecturers**) لېږي؛
10. ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه او میرویس نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه به د اړتیا په صورت کې د اړوند پوهنتونو محصلانو ته د ویډیوکنفرانس له لارې په تدریسي او عملي چارو کې یو له بل سره همکاري کوي؛
11. ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه او میرویس نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه به د دعوت او ارشاد په چارو کې یو له بل سره همکاري کوي؛
12. ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه او میرویس نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه به د اړتیا په صورت کې د کیفیت د لوړاوي او اعتبار ورکوني په پروسه کې یو له بل سره همکاریکوي؛

13. ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه او میرویس نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه به د امکان ترحده د اصولو سره سم د استادانو د تقرر او علمي ترفیعاتو د أمریتونو، د تحقیق أمریتونه، د پوهنځیورئیسانو، او عمومي ریاستونو ترمنځ یو له بل سره همکاري کوي.

**څلورمه ماده: د معنوي ملکیت حق.**

1. که چیري د ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه او میرویس نیکه زابل د لوړو زده کړو د مؤسسې د استادانو او محصلانو له لوري کوم ګډ څېړنیز او اکاډمیک فعالیت ترسره کیږي؛ له نتایجو څخه به ئې دواړه لوري ګټه اخلي؛
2. که چیري یوه څېړنه یوازي د یوه لوري له خوا ترسره سي؛ د معنوي ملکیت حق او امتیاز یوازي د هغه اداري په برخه دئ؛
3. د هري برنامې، سند او یا لیکني له پاره د نوم ، لوګو او یا بلي کومي رسمي علامې استعمالول، د دواړو ادارو اجازې ته اړتیا لري.

**پنځمه ماده: د تطبیق ساحه**

د دې تفاهم لیک د تطبیق ساحه ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسه او میرویس نیکه زابل د لوړو زده کړو د مؤسسې ترمنځ دی.

**شپږمه ماده: د تفاهم لیک انفاذ، دوام او الغاء.**

1. د غه تفاهم لیک د (۱۴۰۳/۳/۱) نېټې څخه وروسته د پنځو(۵) کالو لپاره د اعتبار لري او د دواړو لورو په موافقه هر وخت د مادو او محتوا د تمدید وړ دئ او دواړه لوري کولای سي، چي په همږغۍ سره د اړتیا په صورت کي تفاهم لیک تعدیل کړي.
2. که چیري دواړه لوري وغواړي، له معیني نېټې څخه تر مخه تفاهم لیک لغوه کړي؛ لږ تر لږه باید دوې میاشتي مخکي یو بل ته د یو رسمي سند له مخي خبر ورکړي.

**اوومه ماده: د هوکړه لیک لاسلیک او تائید.**

پورته هوکړه لیک د اوو (۷) مادو په لرلو سره د ارزګان لوړو زده کړو مؤسسې او میرویس نیکه زابل د لوړو زده کړو د مؤسسې ترمنځ صحت لري.

| **ارزګان د لوړو زده کړو مؤسسې رئیس** | **میرویس نیکه زابل د لوړو زده کړو د مؤسسې رئیس** |
|---|---|
| مولوی رحمت الله رحمانی | ........ |